مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۰۹

# کله چې شادو الوتکه وچلوي؟!

## (طنز)

د الوتکي لویدلو په یوې حادثي کې ټوله سوارلې ووژل شوه او څوک هم ژوندي بچ نه شول.

څېړونکي د حادثې ځای ته ورسېدل، ګوري چې هر څه تباه شوي او د الوتکي د لوېدلو لامل موندل سخت دي.

په دې وخت کې یو تن ګوري چې د حادثې په ځای کې د ونې پر یو ښاخ شادو (شادي) ناسته ده او په غاړه کې یې د الوتکي ښېزر او حفاظتي جامه پرته ده.

له هوایي ډګره معلومات وشول. څرګنده شوه چې شادي هم په الوتکه کې وه، خو ډېره عجیبه یې دا وه، چې ژوندۍ ژغورل شوې.

امنیتي کسانو شادي ونیوله او داسې یو ماهر یې ورته راوست، چې په اشارو پوهېده.

ماهر له شادي سره په اشارو خبرې پیل کړې.
د څېړونکو ډلې ماهر ته وویل: له شادي نه رامعلومه کړه چې حادثه کله او څو بجې وشو.

ماهر تن شادي د پوښتنې په اړه شادي وپوهوله، نو شادي خپل لاس ته اشاره وکړه (یعني د ساعت نښه یې جوړه کړه) بیا یې لس ګوتي پورته ونیولي او وروسته یې لاسونه په مخ کېښودل او سر یې کوږ کړ. (یعني د ویده کېدو اشاره یې وکړه)

ماهر تن پر اشارې له پوهېدلو وروسته څېړونکي ټیم ته وویل: شادي وایي، چې حادثه د شپې ۱۰ بجې وشوه .
څېړونکي ټیم وپوښتل: نو په دې وخت کې مسافرو څه کول؟
شادو بیا د ویده کېدلو له پاره لاسونه جوړه او په مخ راکش کړل، یعني بیا یې د خوب اشاره وکړه.
څېرونکو بیا پوښتنه وکړه: نو د الوتکي عملې څه کول؟
شادو دا ځل هم د ویده کېدلو اشاره وکړه.
څېرونکو د پیلوټ په اړه وپوښتل: هغه څه کول؟
شادو په څواب کې د خوب اشاره وکړه.
څېړونکي چې ډېر په تنګ شول، نو ویې پوښتل: ښاء، چې ټول خلک ویده وو: نو تا څه کول؟
شادو وخندل او بیا یې د لاسونو ښورولو په اشارې سره ماهر تن ته وویل: ما الوتکه چلوله.
ژباړه
سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ